مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۶/۱۱/۲۰

محمدسمیع صادق

او

په پښتوهنري نثر کې د یونوي ژانر ایجاد

څلورمهبرخه



ب ـ لنډه کیسه،

د سمیع صادق د هنري نثر لیکنې بله برخه لنډه کیسه ده. سره له دې چې د هغه لومړنۍ ادبي هڅې په اردو ژبه کې د آزادو شعرونو او لنډو کیسو لیکل و، خو کله یې چې په خپلې مورنۍ ژبې لیکل پیل کړل، د نورو منثورو او منظمو ژانرونو ترڅنګه یې لنډهکیسه هم هیره نه کړه. د لنډې کیسې په برخه کې یې تجربې نوي دي، خو حساب پرې کېدایشي. ده په خپلو لنډوکیسو کې په هنري ډول د موضوع حق وراداکړی دی. په خپله سمیع صادق وایي چې: لنډه کیسه یې د ادبي مینې او تخلیقي شوق تر ټولو مهمه برخه ده.

دا یې د څوخپروشوو لنډوکیسو سرلیکونه دي:

ـ درېیم ماشوم،

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ـ مړه کرداروونه،

ـ د وخت ماشين،

ـ د پردي ښار باران،

ـ ته...،

ـ پاڼه ببرته راکړه.

ج ـ ادبي ټوټه،

سميع صادق د خپلې لنډې بيوګرافۍ په ترڅ کې ويلي دي چې د هنري نثر د تخليق يوه برخه يې ادبي ټوټې جوړوي، خو ما يې تراوسه کومه بيلګه نه ده ليدلې چې دا د سميع صادق په باب زما د څېړنې نيمګړتيا ده.

د «زما دايري او...» ترسرليک لاندې د سميع صادق يادداښتونه:

«زما دايري او...» تر سرليک لاندې د سميع صادق يوشمير هغه ليکنې رانغاړي چې د ده د شخصي يادداښتونو په بڼه ليکل شوي دي. دا نثرونه هم ډيرځلي هنري تومنه لري او په هنري بڼه ليکل شوي دي، ځکه يې ما د ده د منثورو تخليقاتو په برخه کې يادونه وکړه.

تر ټولو هنري او خوندوره برخه يې چې زما له نظره تيره شوې ده، «زما دايري او د يوې بېنامي افغانې ښځې روح ته يوليک» نومېږي.

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Sadeq_s_de_afg_sh_r_ta.pdf

دا نثر چې ترپايه ولوستل شي، ليدل کېږي چې هنري تومنه لري. دا لاندې څو کرښې به د مثال له پاره راواخلم:

«نن مې ډايرۍ ښېخي چوپه وه. نه ئې د کومې کيسې غوښتنه وکړه او نه ئې د کومې خاطرې پاڼه راته پرانيسته. غمجنه وه! ورو ئې راته وويل: «نن هغو افغانو ښځو ته د مبارکۍ ليک وليکه چې له دې نړيه تللي دي!» په حيرانتيا مې ورته وکتل او و مې ويل: «د مرګ مبارکي؟» هغې په ژوري ساه وويل:

«هو... زه هم ښځه يم. د افغانستان د ښځو هره سلګۍ زما د پاڼو تر منځ انګازې کوي. ما تل د ژوند د مبارکيو لپاره خپلې سپينې پاڼې دوی ته ساتلې وې، خو ګومان کوم زمانه بدله سوې ده، نو زه هم خپل فکر بدلوم.»

ورو مې نوې پاڼه راوړول د دې د غوښتنې په جواب کې مې دا ليک وليکی...»

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Sadeq_s_de_afg_sh_r_ta.pdf

په دې نثر کې د ښکلو او نادرو تشبيهاتو ترڅنګ، بله هنري ځانګړه دا ده چې ليکوال جامد شيان راژوندي کوي او خبرې ورسره کوي، د ده د يادداښتونو کتابچه خبرې ورسره کوي.

د محمدسميع صادق د زما دايري ليکنو هغهبرخې چې زما له نظره تېرې شوې دي، د ځينو سرليکونه يې دا دي:

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ـ «ستلُج» فلم او زما ډايري،

ـ عالمه اقبال او زما ډايري،

ـ زما ډايري او د يوې بېنامي افغاني ښځې روح ته يو ليک.

۲ ـ د شعر په برخه کې،

د سميع صادق په باب د ځيړنو په وخت کې، د ده په فيسبوک‌پاڼه کې د ده له يو منظوم کلام سره مخ شوم؛ نو پوه شوم چې صادق د نورو فرهنګي کارونو ترڅنګ د شاعري شور هم په سرکې لري.

د ده کوم شعرونه چې زما له نظره تېرشوي دي، داسې ښکاري چې دی د شعر بڼ ته نوی ورننوتی دی. ده په خپله بيوګرافي کې دې ته اشاره کړېده چې:

«دی ځان د پښتو عروضو يو ټنبل زده‌کوونکی بولي. د ده په نظر ده لا تر اوسه داسې غزل نه دئ ليکلی چې دی ئې د پښتو عروضو د ټولو غوښتنو له مخې بشپړ وبولي، خو باور لري چې د دوامداري مطالعې او هڅو په مټ به يوه ورځ دې موخې ته هم ورسېږي.»

دا يې د کلام يوه بيلګه ده:

غزل

بېګا مې ماته کښتۍ او د خاورو سمندر ليدی
د وجود په ايرو کې مې د زړه دا مقدر ليدی

ول سپينې سپوږمۍ خالي کچکول ته، ته را تاه سه زما
په بحث د آسمان سره مې مست يو قلندر ليدی

د آب حيات په لټه چې تالا کړله سرونه
د زهرو په جام مړ مې تږی لاښ د سکندر ليدی

زمور رنګونه چې د رنګ به جرم ټوله زنداني کړه
په دين د سپينو رنګو مې حاکم تور مقتدر ليدی

ول تر سهاره دي دا شپه پر تا سهار نه سي سميع
د شپې پر څنډه په ښرا مې لمر يو در بدر ليدی

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ